# د خوشحال بابا د یو شعر جغرافیائي مفهوم

## Geographical implication of a couplet of Khushal Baba

عبدالکریم بریالی*

**Abstract**:

Author of this paper has deeply studied the poetry of Khushal Khan and is of the view that the word "Qandhar" has rarely been used in the poetry of Khushal khan Khattak in which the poet does not necessarily mean the region of the modern Afghanistan.
The author has thoroughly discussed and gives arguments in the light of a couplet of Khushal Khan and finally concludes that the said word "Qandhar" is another region in swat.

سر یې هوري قندهار بل یې دمغار دی
تر دا منځ همه مېشته واړه عبس دي

خوشحال بابا د مغل له قید څخه د هغهٔ د لمسي افضل خان خټك په قول په کال 1079ه. کښې را ایله شوی ؤ چې د عیسوي کال 1668ء سره سمون خوري"(1). دوست محمد خان کامل ته په دې کښې څهٔ شك ښکاري"(2). خو د مېجر راورټي د وېنا مطابق دا تاریخ د مارچ 1668ء زیات قرین قیاس دی"(3). چې کله مهابت خان په ګجرات کښې د جشن وزن شمسي په موقع خوشحال خان او نورو اربابانو ته درې زره روپۍ او خلعت ورکول شوی ؤ او مهابت خان په دا وخت د کابل ګورنر مقرر شوی ؤ او خوشحال بابا د هغهٔ سره وطن ته راستون شوی ؤ مګر د پخواني ګورنر یا صوبه دار امیر خان تر را رسېدلو پورې لانهٔ ؤ ازاد شوی"(4).

د مهابت خان نوې صوبه داري سره خوشحال خان خپل وطن ته د شپږو کلونو وروسته راستون شو او خپلې خېل خانې ته را ورسېدلی. د مغل د قید او ناروا سلوك او د خټك قبیلې د یو لوی رتبه سالار او صاحب قلم سره دومره ناوړه سلوك د هغهٔ په مزاج او رویه کښې ډېر بدلون راوستلی ؤ. زړهٔ یې له خروشه ډك ؤ. څو میاشتې په کور کښې پاته شو او د مغل حکومت د حکم داري سره څهٔ یې ترون زړهٔ نهٔ غوښتلو، دلته د هغهٔ په غیاب کښې وطن داسې سور اور اخستی ؤ، یوسف زی قوم د بهاکو خان او ملا څالاك په مشرۍ کښې داسې شورش او بغاوت کړی ؤ چې پنځهٔ زره فوج د خپل

* Writer and intellectual

اعلان کړي سړي مرزا محمد کاظم په باچهي اعلان کولو سره یې د اباسین دې خوا غاړه تر سوات او پکهلي پورې نیولې وه"(5).

تر دې وروسته د مغل حاکم کامل خان د ګکهر سردار مراد قلي خان او د خوشحال خان د زوی اشرف خان په ملګرتیا یوسفزیو ته ډېر تاوان رسولی ؤ، او په کال 1077ه. مطابق 1667ء دوه زره سړي وژلي او سل سرونه یې پېښور ته رسولي وو او د نورو څخه یې د کوپریو ځلی جوړ کړی ؤ، دا جنګ د هارون په مقام شوی ؤ. راورټي یوازې د اشرف خان موجودګي یاده کړې ده، د شمشېر خان ترین په مشرۍ د صوابۍ په هنډ باندې قبضه شوې وه او د هنډ پنج پیر، شاه منصور او مرغز کلي او کروندې یې تاخ و تاراج کړې وې. په پنج پیر کښې د شمشېر خان ترین ورور داود وژل شوی ؤ څکه دوی دا کلي ټول برباد کړي وو چې سرخېل یې شمشېر حیات ترین ؤ، دا وخت د کال 1078ه. سنه وه چې خوشحال خان راتلو نو وطن سور په وینو ګرځېدلی ؤ.

د خوشحال خان د مغلو څخه سخت زړه مات شوی ؤ او دلته یوسفزي قام وطن په سرۀ اور اخته کړی ؤ، مغل نوی صوبه دار مهابت په لنګر کوټ چې شهبازګړۍ سره دی یوه قلعه جوړول غوښت. نو یې خوشحال را وغوښت چې د دې قوم د تابع کولو چاره وکړي خوشحال خان چې یوسفزی قوم چې د هغۀ خېل خانه ته یې پناه ورکړې وه او د هغۀ په ذهن کښې ډېر بدلون راغلی ؤ چې پخوانۍ بدي یې هېره کړې وه، مهابت خان چې د قلعې جوړولو تجویز ورکړ نو خوشحال خان دا فارسي شعر ورته وویلی:

چند کهی گل مینمائی بی بقا دیوار را
گر تو لنگر کوٹ خواہی قلعہ کن دمغار را

ترجمه: (تۀ و نړېدلي دیوار ته ګَل ورکوې، که غواړې چې لنګر کوټ جوړ شي نو بهتره دا ده چې دمغار یوه قلعه کړې).

مطلب یې دا ؤ چې د کوهستان او سوات د نیولو دپاره په کانجو او دمغار کښې قلعې جوړې کړه. شمشېر خان ترین په دې مجلس کښې ناست ؤ او هغۀ غوښتل چې دا قلعه جوړه شي. افضل خان خټک لیکي چې د شمشېر خان مقصد دا ؤ چې باچا به د دې انتظام ما ته راکړي، خوشحال بابا په دې مجلس کښې شمشېر خان ترین ته مخاطب شو او دا شعر یې ورته وویلی:

مهم د یوسفزیو درته وایمه ښکاره
د خرۀ خسي کول دي لاس ګنده ګرېوان پاره"(6)

مهابت خان د خوشحال بابا خبره ومنله او باچا ته یې ولیکل چې باید د قلعې منصوبه پاته شي خو شمشېر خان په پټه باچا ته خطونه استولي وو چې د قلعې جوړول ضروري دي او اخر باچا د

قلعې جوړولو حکم ورکړ چې دا به د جون 1669ء. او محرم 1080ه. تاریخ ؤ، د خوشحال بابا لوی مقصد چې لاندنی یوسفزي د ابادو کروندو خلق د یوسف زي قوم د مغل د هرې ورځې د حاکمانو د جبر څخه ساتلو چې هره ورځ سپاهیان په اولسونو پسې وي، لوی علت یې دا ؤ چې مندڼ یوسفزیو د خوشحال بابا د قید په دوران کښې د دوی ټوله خېل خانه په سیکرۍ کښې ورته پناه ورکړې وه، هغه نېکي يې مخ ته درېدله، دویم هغهٔ د یوسفزي د زړې بدۍ هم ختم کولو په تکل کښې ؤ چې د خوشحال بابا له هغه وصیت څخه څرګنده ده چې د هند له جېل څخه یې خپلو بچیانو ته را استولې وه، درېم یې د یوسف زئي قوم په حمایت کښې یو نظم هم ولیکلو چې دوه شعرونه یې داسې دي:

لنګرکوټ مغلو ساز کړ :: زهٔ په ننګ بیا د افغان شوم
که یوسف ؤ که مندڼ ؤ :: زهٔ د دواړو نګهبان شوم"(7)

خوشحال بابا د ژوند په اخري څوارلسو کلونو کښې څو حماسي قصیدې لیکلې وې چې ډېرې مشهورې دي، یوه د غفو (1086ه.) د کال قصیده وه، په دې قصیدو کښې او د دوی په ټوله شاعري کښې د کندهار توری یوازې دوه ځله راغلی دی، د غفو د کال د قصیدې څخه دا شعرونه ولولی:

چې احوال د یوسفزو را ته معلوم شهٔ
لواغر و ما ته ښهٔ ؤ نهٔ دمغار
درست پښتون له قندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ په کار پټ او آشکار"(8)

دوېم ځای د خواجه ګنج هوتي په نسخه کښې په صفحه 240ء باندې شپږ شعرونه بې له مقطعې شامل دي، دوه شعرونه داسې دي:

اوښ له باره سره کور ته ورغلی
په اولجه د اوښ د غاړې د جرس دی
سر یې هورې قندهار بل یې دمغار دی
تر دا منځ همه مېشتهٔ واړه عبس دی"(9)

په دې یاد شوو شعرونو کښې یو ځای د قندهار او دمغار د منځ علاقه اندازه کوي او په بل شعر کښې د قندهار او اټک تر منځ د پښتنو د قبایلو د سیمې حدود متعین کوي، دمغار او کانجو په سوات کښې دوه کلي دي چې د غرونو په منځ کښې دي. دمغار د تېمرګرې څخه د مشرق په لوري یو غر دی، دا هغه وخت دی چې خوشحال بابا د مغلو د فوجونو د مقابلې دپاره د سوات د یوسفزیو قوم

د راټولولو په تکل کښې دی، هغه وخت یې د لنګر کوټ قلعه وهلو دپاره د خپلو زامنو په ملګرتیا یوه سخته حمله هم کړې وه چې میر بخشي د قلعې د نورو کسانو په کښې ومړ او دا حدود د منډړو د سیمې ؤ. د مشرق او مغرب په لوري یوسفزي، مهمند، اپریدي او خټک قبیلې په دې غرئیزه سیمه کښې مېشتهٔ دي.

یو ځای د کندهار مشابهت د دمغار د غرهٔ شوی دی او بل ځای د اټک پورته سیمه د پښتنو قبایلو، څرګنده ده چې د خېبر څخه تر باجوړ او چترال پورې مېشتهٔ دي.

د پښتونخوا د انګریز د دور اخري ګورنر سر اولف کېرو یو کتاب پټهان په کل 1958ء کښې چاپ کړی دی چې د پښتنو تاریخ یې د انګریز د پالیسۍ مطابق لیکلی دی، د خوشحال خان خټک په باب یې ډېر متعصبانه او سخته لهجه کارولې ده او پښتانهٔ یې د افغان او پټهان په نامه تقسیم کړي دي. افغان د ډیورنډ لائن پورته سیمه او پټهان هغه سیمه چې د هند د وېش مخکښې قبایلي او د پېښور مردان سیمه اولف کېرو د پټهان په نامه یادوي، یو ځای لیکي:

The detail of this up and down contents are beyond our preview but the realization that the fortunes of Kandahar lay much more closely with persia than with Mughal goes for to explain the separate development of the Afghan tribe in the Kandahar area.(10)

ژباړه: (د دې تفصیل لوړه او ژوره او د هغهٔ لاس ته راوړل، زمونږ له مطالعې څخه بهر دي، لېکن د دې احساس سره چې د کندهار قسمت زیاتره د ایران سره زیات نزدې پاته شوی، پرته له مغلو چې هغه د افغانانو د کندهار د سیمې د بېلې څېړنې وضاحت غواړي).

یو بل ځای لیکي چې:

"د کندهار د نیولو زیار زمونږ د تاریخ عمومي او جغرافیائي حدود له نظره وتلی دی چې وروسته دا قبائلي سیمې او د دوی تر منځ فرق د پټهان افغان هم یو تفصیل لري چې د ابدالیانو (درانیو) د راتګ مونږ په لومړي وار اورو"(11).

د اولف کېرو د تاریخي غلطیو جواب دوست محمد خان کامل په خپل کتاب on a Foreign approach to Khushal کښې په کال 1968ء کښې کړی دی او د کېرو د تاریخي او ادبي غلطیو جواب یې کړی دی"(12).

ایاز داودزی د پټهان کتاب د خوشحال خان خټک باب د ځنو اختصاراتو سره بېخي د خپل وضاحتونو پورې په کال مارچ 1958ء کښې قند پښتو ګڼه کښې ژباړه چاپ کړې ده"(13).

او وروسته د څهٔ بدلون سره یو ځل په تاتره رساله پښتو ادبي بورډ پېښور اکتوبر دسمبر 2001ء کښې چاپ کړه او دریم وار یې د پښتو اباسین په سرکاري رساله کښې په نومبر دسمبر 2008ء کښې یو وار بیا چاپ کړه، ایاز داودزی لیکي:

"په سوهیلي قبلیز اړخ لره شان قندهار ته ور ورډیرې خو بیا هم د ابدالیانو ذکر نهٔ کوي چې د هغهٔ په زمانه کښې د درانیو ستره قبیله هم په دغه نامه بلل شوې، دوی د هغهٔ انعکاس نه بهر دي او داسې معلومیږي چې د هغهٔ په نزد څهٔ اهمیت نهٔ لري، د خوشحال خان خټك بصیرت د پېښور، کوهاټ د وادیو او د هغهٔ د غرونو چې د سوات نه تر کوهاټ پورې د دغه سیمې نه ګېر چاپېره ولاړ دی، محدود دی، دا هغه قبیلې دي چې د مغلو د دار الحکومت دهلي نه د کابل د بېرته صوبې د لویې لارې (خوا و شا) پرتې دي، د خېبر په لور هم د بنګښو په اړخ هم، بس دغه قبیلې دي چې دی ورته د ننګ او عزت په نامه غږ کوي"(14).

ایاز داودزي د اولف کېرو ژباړه ټکي په ټکي نهٔ ده کړې بلکې د هغهٔ د مفهوم ښکاره کولو په څېر یې خپل وضاحت او اضافه او چوڼ ورسره لیکلې ده، او خوشحال خان یې یوازې تر دې قبایلي سیمو او د دې ځای تر غرونو پورې را محدود کړی دی.

که څهٔ هم د دې وضاحت سره زهٔ اتفاق نهٔ کوم خو یوه خبره څرګنده ده چې دلته د کندهار توری د غرهٔ یا ځای په نامه یاد شوی دی، د خوشحال خان په دیوان کښې د دوه ځایه سیوا بل ځای کندهار توری نهٔ شته، البته د نوي لارې ذکر چې راځي نو د بدخشان او کابل څخه ننګرهار، پېښور، اټك، لاهور، کشمیر، ګجرات او ډیلی په تواتر سره ذکر شوی دی او لس ګونه واري د دې ښارونو یادونه شته.

د پښتنو د لوی ملت په حواله د اخبره زړهٔ مني چې کندهار یې د وطن د یادونې په علامتي ډول یاد کړی وي چې د پښتنو ویړ وطن دی او هغه وخت د پټهان او افغان یا ډیورنډ لائن نهٔ ؤ. خو دلته د کندهار او دمغار یادونه د دوو غرونو په ډول شوې ده او هغه وخت خوشحال بابا د یوسفزیو وطن ته تللی ؤ او دوی یې د مغل خلاف را پورته کول غوښت.

اوس چې مونږ د سوات د سیمې جغرافیائي څېړنه وکړو نو د کندهار نوم په واضح ډول نهٔ شته البته یو غر او سیمه د سوات په علاقه کښې د "ګنډکار" په نامه وجود لري چې د تېمرګرې سره د مشرق په خوا د باجوړ په لاره پروت دی، دا "ګنډکار" ممکن ده چې د غرهٔ د نسبت په وجه د دمغار سره مشابه ویل شوی وي او هغه په لیك کښې کندهار راغلی وي. ګنډکار د دمغار څخه په 85 کلومیټره حدود د تېمرګرې او باجوړ په لاره موجود دی.

بل یو ځای دا غر په چترال کښې د کندهار په نامه هم وجود لري چې ډېر ستوخ ځای او د پېریانو په نامه یادول کیږي.

راځئ چې وګورو چې د کندهار د تاریخ په اوږدو د کومو کومو ځایو دپاره نومول شوی دی.

پوهاند اکاډمیسن عبدالشکور رشاد د پښتو ادب په اسمان باندې د لمر په شان حېثیت لري، هغوی په خپل ژوند کښې د کندهار تاریخ نومې کتاب لیکلی ؤ چې وروسته د هغوی د وفات په لومړي کلیزه کښې نامتو محقق ښاغلي محمد معصوم هوتك ګډ د دوو جلدونو سره د خپل ترتیب

او سمون یا په بله ژبه تصریحات په کال 2007ء له جرمني څخه د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې له خوا چاپ کړ"(15).

او له خپلې خوا يې ورته "د کندهار یادابښتونه" نوم غوره کړی دی، په دې کتاب کښې لوی کندهار په زړۀ پورې تاریخ د مخصوصو یادابښتونو او نوټونو د غونډولو په ترتیب نیول شوی دی، ګوا داسې کتاب لکه راورټي چې نوټس آن افغانستان اینډ بلوچستان لیکلی دی، په دې کښې د کندهار د سیمې شا و خوا سیمې او هغو جغرافیائي، تاریخي او علمي معلومات په غیر مرتب ډول را غونډ شوي دي، یو تسلسل د واقعاتو نۀ شته بلکې د اهمو تاریخي پېښو په باب د ځنو حقائقو څېړنه ده. ښاغلي معصوم هوتك ورسره تشریحات او تعلیقات هم زیات کړي دي چې ځنې په کښې د تامل وړ هم دي. خو د افسوس خبره دا ده چې په دې دوه جلده کتاب کښې د میا عبدالحکیم کاکړ نانا صاحب یادونه نۀ شته او داسې نور څۀ معلومات ورك دي چې قاري داسې محسوسوي چې دا درسي نوټس دي یا د کندهار او مضافاتو یو جغرافیائي قاموس دی.

لومړی باب د کندهار نوم ته مخصوص شوی دی چې د پرش مخه لري، لومړی یادونه د دکن کندهار دی چې د شېخ فرید بهکري په ذخیرة الخوانین کښې په 121م مخ موجود دی او ورسره د برهان مآثر ذکر هم کوي، په حاشیه کښې معصوم هوتك د تاریخ هندوستان 218 مخ ذکر کوي.

دویم ویهندر (هنډ) د پېښور کندهار دی چې په لومړني کتاب حدود العالم مؤلفه 372ه. کښې شته چې دا لوی ښار دی چې باچا يې جي پال دی.

منهاج السراج کتاب داسې لیکي:

"بتخانه ویهند در حدود برشاور (پېښور) بر لب آب سدره بود"(16).

دا ویهنډ د هنډ یا ټکسیلا ښار ته اشاره کوي، البیروني هم یوه قصه په سنده. ایالت کښې بللې ده، په کتاب الهند او تاریخ مسعودي کښې هم د دې ښار یادونه شوې ده، خو کندهار او ګندهارا یو بولي چې د اباسین په غاړه دی، په "*اٹک کے اس پار*" کتاب کښې ګندهارا د پېښور د ناوې پشکلاوتي ښار یعني پېښور ته اشاره ده، استاد رشاد دا توری پېشکارواتي لیکلی دی.

سید سلېمان ندوي په خپل کتاب "هند و عرب کے تعلقات" کښې دا ښار د راولپنډۍ سره نزدې ښار بللی دی او استاد رشاد د دغه ویهند کندهار ته قندهار وايي چې ببخي دا ځای ګندهارا ته نژدې دی، د ګندارا او کندهار التباس د ټولو افغاني او پاکستاني مؤرخینو په کتابونو کښې راغلی دی چې پاکستاني لیکوال يې ګندهارا ګڼي او افغاني ورته کندهار وايي. دا وهیمند ښار ډېر پخوانی دی او کتبې هم لري چې الله بخش یوسفي يې Ohind ګڼي چې د صوابۍ هنډ ته نزدې دی"(17).

بل د ګجرات کندهار دی چې ابن بطوطه د هغه یادونه کوي او د سنده. کندهار دی چې په Ancient India کښې حواله ورته شوې ده. په ائین اکبري کښې د هند په علاقه اړیسه کښې هم

کندهار شته، دوه ښارونه یا ځایونه په آذر بایجان او کښېدا کښې معصوم هوتك او شېرشاه رشاد اضافه کړي دي. د دې ټولو نومونو سره د کندهار لوی ښار چې بودائي دور څخه موجود دا اوسنی ښار دی هغه ته د کندهار یا قندهار نوم ډېر قدامت لري چې هلته د خروشتي او آرامي او یوناني ژبو ګډ یعني دوو ژبو ګډه کتبه موندل شوې ده هغه دا اوسنی کندهار او د دې مضافات دی چې ټاٸن بي مؤرخ د دې تائید کوي"(18).

زمونږ د موضوع سره سم په سوات کښې د ګندهار په نامه یو اهم ترین ځای د" ګندهار" ځای په سوات کښې د ډاډر سیمې نژدې زنګي دره ده چې د دې ذکر ډاکټر بېلیو په کال 1875ء کښې په خپل کتابThe Races of Afghanistan کښې په اولسم مخ کړی دی"(19).

د خوشحال بابا هغه شعر چې "سر یې هورې ګندهار بل یې دمغار دی" د دې دوو غرونو او ناوو په منځ کښې یوازې یوسفزي قوم دی چې خوشحال بابا ورته اشاره کړې ده او هغوی د مغلو خلاف را پارولو. او دۀ ورته عبث توری یاد کړی دی. دا ټوله هغه سیمه ده چې په پکهلۍ څخه بیا د سوات تر دمغار پورې وجود لري. د دې ټول بحث څخه مونږ دا نتیجه اخلو چې خوشحال بابا د یوسفزئي قوم د مېشت علاقه یاده کړې ده چې یوه ناوه د ګندهار د زنګي دره ده او دویم د دمغار سیمه ده چې ټول یوسفزی قوم په کښې اباد دی. په بل طرف د لوی کندهار جغرافیائي موقعیت دومره لرې دی چې پنځلس سوه میله یا دوه زره کلومیټره باندې پروت لوی کندهار دی چې خوشحال بابا که څۀ هم په لس واره کابل ته تللی دی خو کندهار یې لیدلی نۀ دی. تر کومه حده چې د خوشحال بابا د دویم شعر تعلق دی چې د کندهار یادونه په کښې شوې ده، (لکه درست پښتون د کندهاره تر اټکه) د دې په باره کښې زما ګمان دا دی چې خوشحال بابا به خامخا خافي خان منتخب اللباب کتاب څخه د اغر خان ذکر په فارسي کتاب "آغر نامه" کښې لوستی وي.

په کال 1089ھ 27 ربیع الاخر کښې د اورنګ زېب زوی شهزاده (شاه عالم) معظم خان کابل ته تللی ؤ نو آغر خان په ننګرهار یوه قلعه جوړه کړه چې نوم یې آغر اباد کښېښوو، بیا افغانانو یو لښکر تیار کړی ؤ چې په هغه باندې حمله هم وکړې، آغر خان په فارسي کښې شعرونه داسې لیکلي وو چې دوست محمد خان کامل ورته مبالغه امېز وایي چې منتخب اللباب د دې آغر تعریف زیات کړی ؤ"(20).

حصاری درآن عرصه بنیاد کرد :: باندک توجه قلعه اباد کرد
چو آن قلعه گردید آنجا تمام :: شدش زآن سبب آغر اباد
افاغین زهر سو برانگیخت سر :: هم بسته بر خون آغر کمر
ز حد اتک تا حدِ قندهار :: پدید آمده لشکر بے شمار

همه جمع گشتند بهر مصاف :: تو لشکر مگوید یک کوه قاف
مسلح همه گشتند از بهر کمین :: رسیدند بر حد لمغان زمین"(21)

دلته لغمان توری لمغان لیکلی دی چې د ننګرهار حدود ته نژدې دی خو کندهار بیا هم پنځۀ سوه کلومیټره لرې دی. دا عین ممکنه ده چې د اټك او کندهار د منځ حدود هم هغه قبایلي سیمه د پښتنو ښایي چې د یوسفزئي، خټك، افرېدیو او مومندو وطن دی او د خېبر دره په دې منځ کښې پرته ده، دا وخت د آغر خان د فوج کمان د خپل ورور تنګري وردي خان په لاس ورکړی ؤ او ورسره د راجپوتانو سردار د ګکړ قوم هم ورسره ملګری ؤ خو په مقابله کښې د ایمل خان مومند فوج تیار کړی ؤ چې پښتنو ته ماته ورکول شوې وه"(22).

جادو ناته. سرکار لیکي

"که چرې د ایمل خان مومند دا حمله کامیابه شوې وای نو د مغل سلطنت سیاسي نقشه به د همېشه دپاره بدله شوې وای"(23).

دلته د خوشحال بابا د خپل لاس بیاض (تاریخ) چې افضل خان خټك په خپل تاریخ مرصع کښې لیکلی دی د هغۀ د خپل لاس لیکلی تحریر او صیغه دومره ښکاره ده چې د خوشحال خان او ایمل خان مومند ملاقات سره شوی ؤ او دا ملاقات په خېبر کښې شوی ؤ چې ډېر تاریخي اهمیت لري چې کله دوی د یوسفزیو د وطن په خوا روان وو، خوشحال بابا داسې لیکي:

"په اخر د جمادی الثاني د تیراه نه د یوسفزیو په لوري روان شوم، راز علي او حسن علي موسیٰ وغېره ښۀ ښۀ سوارۀ بدرګه راسره وو، په بازار راغلم، هورته ایمل خان په مخه راغی سره کښېناستو، دی تیراه لره راتۀ، ویې وې چې راسره وجاروزه، ما وې چې که زۀ پوهېدلی چې تۀ بره راشې، زۀ به د تا راتلو ته معطل وم، اما اوس روان یم، افریدیو ډېر ستنولم ستون نۀ شوم، که اوس جاروزم څۀ خو عیب دی یو څو خبرې مو سره وکړې روان شوم، اپرېدي مو رخصت کړو، سرو* پائی هر کدام ته ورکړو، د څخوبي په لار د ایمل خان سرې راسره ډکې(♣) سره راغلم، شپه مې هورته تېره کړه صبا بېړی(♥) راغله پورې شوم، ورو ورو په مهمندو کښې تلو واړو ښۀ پښتونولي کوله، په ښۀ روش راغلل، ضیافت وغېره یې په ښۀ طریق وکړو، ځای په ځای راسره وو، تر خپل حدود نه یې تېرولو، مهمند مې ښۀ عالم ولید، خصوصاً نظر مهمند عجبه ځوان ؤ، کمال خان د دۀ ورور زۀ پرې مین شوم، مرد ؤ، دلته د ملا ګوري له خوا د سلو نه زیات کسان ورسره وي، خو د اتمان خېلو کرلاڼو شکایت کوي چې د دوی طمع ځنې وه خو هغوی لکه (غوبانۀ شپانۀ) بیا خټکو ته ورغلو. (په کډې کښې اوریاخېل وو، عثمان خېل راغېزي خټك ډېر خوشحال شول، عثمان خېل متحیر شول چې څۀ رنګ

*خلعت. (♣) د تور خم هغه خوا ته ډکه وایي. (♥) کشتی.

راغی، دا به څهٔ شي، څنو ویل چې ښهٔ وشول چې راغی څنو وې لکه شجاع یو مغل به ورپسې راشي"(24).

دلته د شجاع کلمه یو جعلي شجاع ته ده چې د مغلو مؤرخینو د یوهٔ بل چا نامه ځوك بنگالي سړی یاد کړی او انگرېزانو مؤرخینو هم د جعلي شجاع نقل د مغلي مؤرخینو څخه لیکلی دی خو اصل واقعه د ایمل خان وه، مومند نهٔ ده چې هغه د مغل په خلاف را پورته شوي وو.

د دې لوی عبارت څخه چې د خوشحال بابا په لاس لیك دی، د یوسفزیو د وطن سفر او د ایمل خان ملاقات ډېر لوی اهمیت لري. وروسته په رستم کښې څو میاشتې تېرې کړې او بازنامه کتاب یې په هغه فرصت کښې لیکلی ؤ.

د دې ټول مبحث څخه دا نتیجه اخستل ډېره په اسانه کیږي چې خوشحال بابا د یوسفزیو د وطن د سفر په وخت د کال 1086ه.. را وروسته درې ځله قندهار ټکی/ توری استعمال کړی دی، یو ځل په رباعي کښې یې د کندهار د ښکلو تعریف کړی دی، د دیر سیمه کښې دمغار ته نژدې د کندهار په نامه اوس هم یو کلی موجود دی چې د کانجو او دمغار د منځ په حدود کښې دی او له کانجو څخه 82 کلومیټره لرې دی، دغسې خوشحال دوه ځایه نور په دوه شعرونو کښې د خپلو حماسو په منځ کښې د کندهار ذکر کړی دی، که څهٔ هم د نامه التباس هر ځای راتلی شي خو د لومړي شعر د کندهار څخه مراد هغه دمغار د ناوې گندکار او قرین قیاس د ډاډر د ناوې د زنگي دره هغه یاد شوی غر دی چې ډاکټر ببلیو هم د هغه نوم (Gandhar) لیکلی دی چې د یوهٔ غرهٔ نوم دی د یوسفزئي د وطن، نهٔ هغه لوی کندهار چې ډېر لرې په جنوبي حوذه کښې پروت تاریخي ښار دی.

***

# حوالې


(1) ختټک، افضل خان، تاريخ مرصع، حاشيه او ترتيب دوست محمد خان کامل، پېښور، 1974ء، مخ 292. (دوست محمد خان کامل په خپل اردو کتاب کښې يو ځای هم د تاريخ مرصع صفحه نمبر په کال 1951ء کښې نۀ ده ليکلې. په کال 1974ء کښې تاريخ مرصع چاپ شو. د خوشحال بابا د ايله کېدو تاريخ هغه په خپله په يوۀ شعر کښې 1076هجري ليکلی دی چې د امير خان مور ته يې ښکنځا کښلې ده. بيا افضل خان 1077هجري هم ليکي او په اخير کښې بل ځای ليکي (زر نه اويا 1079) تاريخ مرصع، ص292. 293. په کليات خوشحال حصه دوېم صفحه 357 کښې د يوۀ شجاع د شور و شر په حقله ليکي چې هغه ايله شوی ؤ او هغه اندازاً هم دغه 1079ه. کال دی چې مهابت سره ګډ وطن ته راستون شوی ؤ).

(2) ماثر عالمګيري، ص 51. کامل اردو ص 119 حاشيه، Notes on Afghanistan by G.H. Raverty p399.

(3) کامل، دوست محمد خان، دوست محمد خان کامل، 1951ء، ص119.

(4)G.H. Raverty, Note on Afghanistan and Balochistan Quetta, Second print 1977, p399.

(5) کاظم، محمد مرزا، عالمګيرنامه، کلکته چاپ 1868ء، ص1041.

(6) ايضاً، ص430.

(7) ختټک، افضل خان، تاريخ مرصع.

(8) ختټک، خوشحال خان، د خوشحال خان کليات، کندهار چاپ ص944، پېښور چاپ دويمه حصه ص357.

(9) ختټک، خوشحال خان، د خوشحال کليات، د هوتي نسخه، 1928ء، پېښور، جلد دويم ص88.

(10) ايضاً، ص240.

(11) Olaf Caroe, The Pathan, London 1958, p224.

(12) Ibid, p 222.

(13) A Foreign approach to Khushal. Univesity Book Agency Peshawar. 1968.

(14) قند، پښتو مارچ 1958ء، جلد ګڼه 5.

(15) اباسين، پښتو خصوصي ګڼه، خوشحال خان ختټک نمبر، اسلام اباد، ص2.

(16) د کندهار يادابښتونه، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه جرمني، 2007ء.

(17) حدود العالم، ص26.

(18) طبقات ناصري، 1949ء کوټه، فارسي، مخ 270.

(19) The Races of Afghanistan Karachi, p 1875.

(20) کامل، دوست محمد خان، خوشحال خان ختټک، پېښور، 1951ء، ص196.

(21) منتخب اللغات، د خافي خان، جلد 2، ص242.

(22) کامل، دوست محمد خان، خوشحال خان، ص197.

(23) هسټري اف اورنګزېب، جلد 3، 278، 279.

(24) ختټک، افضل خان، تاريخ مرصع 324.